مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

علم گل سحر

۲۰۲۱/۰۳/۰۶

# په اورونو کې ژوند

په تورتمونو، په اورونو کې لار روغ پاتې یو
ترکاني کلک یو، توپانونو کې لا روغ پاتې یو

هره خوا کرکه وه، کینې وې، موږ به مینه کړله
عجبه نه ده؟امازونو کې لا روغ پاتې یو

بیرغ دمیني مو په هیڅ جګړه کې ښکته نه کړ
له دې سببه په تیغونو کې لا روغ پاتې یو

دا ښکلي هسې له موږ مخ اړوي، ځان کنجوي
موږ یې په روح، موږ یې په زړونو کې لا روغ پاتې یو

سرو اننګیو ته یې ګورو، خو لانه پرې سوځو
په دومره ښکلو او حسینو کې لا روغ پاتې یو

که مومن خان دې چیرې ولید ورته ووایه چې:
موږ د ښامار تیرو غاښونو کې لا روغ پاتې یو

مخامخ خاندي او له شا مو په خنجر ووهي
سحره! مونږ داسي وختونو کې لا روغ پاتې یو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ